یو نیم ملیون غاټول که د بکوا په د ښته شنه شي
دا ډاګ به سور چکن شي زرغونه رڼا به کا ندي

www.libtool.com.cn

ماوې دتا په قبر به ډیوې روښانومه
ماوې چې دا ببر سر به په شناختې در ته ږدمه
ماوې چې ستا کین به په تودو اوښکو پرېولمه
ماوې چې د جمعې شپې ستا مزار کې تېرومه
ماوې ستا د جامو سره د زړه خواله کومه
چې تا قدم پرې ایښی وې هغه ځای ښکلومه
خو قسمت بله راوکړه !
په یو سر د دنیا کې ته د خاورو میلمنه شوې
او زه د دنیا بل سر کې دعا در ته کومه

۱۹۸۲ ع
ډنمارک

www.libtool.com.cn

# دمهاجرخوب

خوب وینم عالمه که یې څوک راکي ما نه
پروت یم سر مې ایښی دخپل یار په زنګانه

سر په بالښت ایښی تش کالبوت په واشنګټن کې و
روح مې په مزومزو روان په خپل وطن کې و
واورې دسپین غره ویاچې په تنده مې سرویلې
خاورې دوطن وې چې په سر مې بادولې
مرې اوښکې روانې وې په مخ دانه دانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکي ما نه

ږنه د شمالي ته شوم انګور میزان وهلي
تاک شینکي زیړ چکي شو تالان پرخو پریو للي
کوز تګاو ته لاړم داغونه لوی وني
www.libtool.com.cn
پاس وختم غره ته د خیبر یو پاڼي پاڼي
خلک وو، بازار و، شور ماشور وو، تله راتله وو
میږي وې، شپانه وو، هیاهوی و، سرا و شنه وو
نه دویره وه نبنه، نه د غم وه نبنا نه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکې مانا نه

بیا مې شو ګذر لکه کوربت په لوی سالنګ
ویږې مې وزرې وې په څوکه په کړنګ
واورې سپینې سپینې ځلیدې لکه سپین زر
کوز رښې اوبه وې، پرېوتلې لر و بر
زرکو او بلبلو یې په ترو کې سندرې کړې
مستې زړې هوایې اندېښنې لرې زړه لوی کړې
مورګې ځلیدلې لکه زلفې په شانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکې مانا نه

خوب وینم: باغچه وې ټوله شنه په څنار و نو
مینځ کې یې صفه وې، ټوله پټه په ټغرونو

خواکې يې وياله کې د ږنواو بوټوپو نه وی
زه يمه ياران وی، چمنونه، مجلسونه وی
بره خوا پټوکې شولې شنې باد ته اچوی
خېل وی د چنچنو، تيتې الوزی اتڼ کوی
ځمکه او اسمان په ګډه وايي تـــــرانه
خوب وينم عالمه که يې څوک راکې مـــانه

خوب مې په وطن کې دی، خوړدن مې په وطن کې دی
خوب کې چې هم مرمه، ځنکدن مې په وطن کې دی
قبر په وطن کې، جنازه مې په وطن کې ده
تن مې په وطن کې دی، کپن مې په وطن دی
ما ته تابوت مه جوړوئ، ما ته ګلان مه راوړئ
روح مې په وطن کې دی او تن مې په وطن کې دی
ګونډې يو شپونکی وطن قبول کړي نـــذرانه
خوب وينم عالمه که يې څوک راکې مـــانه

۱۹۸۵
واشنګتن

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# زانه

ستا اوږده اوږده وزرونه، هندوکش له څوکو جګ دي
لنډ وي اوږده منزلونه ، چېرته چې کله رسېږي

ستا اوږده مشوکه ډوبه ، نن آموکې بیا سبا ته
د سپین غره د سرډنډ وکې مسته مسته مخچولېږي

الوتوکې رانګې زانګي څه ګيندې وهي اسمان ته
چې سيلۍ څومره سختېږي ته په شوق ورته نڅېږې

د نيلي اسمانو پېغلې، ولې دومره ځلانده ګرځې
www.libtool.com.cn
راته ښکارې پښتنه يې له زلميانو نه شرمېږې

تور اوږه د پسرلي کې چې باران نم نم ورېږي
ته زموږ د کلا شا ته، توره شپه کې راکوزېږې

زه يې اورم چې ته بولې، ها خوږې خوږې بدلې
زه يې ګورم چې ته خاندې او بيا ورانه ورا نه کېږې

چې ته بيا وزرونه دږ کړې کاشکې ما درسره بوځې
بې وزرو درته ځوړېږي زړه مې! ته نه پوهېږې

کاشکې ما وزر لرلای چې سهار درسره لاړ وای
څه ښه خوند کا چې آموته، هندوکش نه ورښوېږې

څه د تالندې مترو کې، د آسمان مخ ورشين کړې
چې د اوښکې دانه کې شوې او کرار کرار بهېږې

کابل ۱۹۶۰

www.libtool.com.cn

# له خپل ځان سره راز او نیاز

شپه چې پخه شي ګاونډي ویده شي
چې د موټرو آواز ودرېږي
زه د خپل کټ ته مخ ګونډې ووهم
اوښکې مې مرۍ مرۍ په بارخو ښوییږي
شونډې مې ښورې خو اواز نه لري
او دا شکرونه مې له زړه نه وځي
چې یه زما روحه له تا شکریه
چې لا تر اوسه غاړه هسکه ساتې

ARIC
B
3.532
SHP
982

# DEW DROP ON A SAGEBRUSH

www.libtool.com.cn

(Parkha Pa Tarkha)

Poems

by

*Saduddin Shpoon*

Writers Union of Free Afghanistan

Series No. 52

*1990*

IRC Printing Press

چې د امید په باغ خزان کړ شي
چې په شنو پاڼو زېړې ولګېږي
چې د ماليار مخ په ګرد و پټ شي
www.libtool.com.cn
چې د بورا وزرې وسکېږي
زه لکه سروه غاړه جګه ساتم
د حوادثو د کوتکو لاندې
مې سرمات شوی خو کوږ شوی نه دی
داوړ دو شپو په شومه دم کې وایم :
چې په زما روحه له تا شکر یه
چې لا تر اوسه غاړه هسکه ساتې

۱۹۶۰
کابل

www.libtool.com.cn

# زه د شپې له تاریکۍ سره آشنا یم

زه د شپې له تاریکۍ سره آشنا یم
زه د تورې تروږمۍ سکنې ورور یم
ما د سولې په سندرو لمونه کړي
زه د جنګ ترانې بولمه سورا ور یم

ما د خپل وطن شینکی اسمان لیدلی
چې د زانو په کې جوړ وو امیلونه
اوس د برګو الوتکو له منګولو
ترې تویېږي یا په خروار خروار بمونه

ما لیدلي دي هتی دو شپیته ټانکونه
په کړچار چې یې ټول غر او کمر ښوري
چې په کلي را شیبوه شي میندې رېږدي
ما شومان زبون وهلي ورته ګوري

ما لیدلي دي الوتي جوماتونه
ما ښکل کړي د قرآن سپېڅلي پاڼې
ما ټول کړي دي د ورور پرې اندامونه
ما په میاشتو ګوزاره کړه په ممانې

زه د هو مستو بانډو ښروندی شاهد یم
اتڼونو بې چې مځکې لړزولي
اوس د تشو کنډوالو کچکول په غاړه
صورت سوی، جومات مات، ګروې شلېدلي

چې حیالکه غوټۍ پلو کې نغښتې
مالیدلې دي هغه درنې بېبیانې
اوس یې ګورم دیوې خیمې په تمه
لالهاندې، سرګردانې، لیونیانې

www.libtool.com.cn

نو،

زه د شپې له تاریکۍ سره اشنا یم
زه د تورې تروږمۍ سکنی ورور یم
ما د سولې په سندرو للو نه کړې
زه د جنګ ترانې بولمه سور اور یم

۱۹۸۲ ع
دنمارک

دا ارد وژبې شاعر هارون الرشید د شعر ژباړه

www.libtool.com.cn

# دافغانانو غږ، روسانو ته

راشه چې داغرونه دي د هر قدم او ښار دي
تاته د وطن د اسمان ستوري انتظار دي
موږ هم په هسکه غړې ستا راتګ ته ناست یو
موږ به پوه شو چې سرونه دي په کار دي

راشه چې موږ هم همدې شيبې ته ډېر كتلي دي
تا په دې وطن كې ډېرې وينې بهولې دي
دلته به د ټول جهان ميړانه خپل سيال وګوري
دلته موږ هوډونه او لوظونه ازميلي دي
www.libtool.com.cn

ته د ماشينونو او پولادو په پښو تلل كوې
ستا ميړانه داده چې د زهرو ورګول كوې
تاسو كې خو داسې كوم باتور هر كوره نه وينم
(چې)
كاڼي دې په لاس كې وي په ټانك باندې يرغل كوې

ته كه زما سر غواړې زما هم پرې رضا ده
دومره به دې پوه كړم چې ما مې سر كې څه سودا ده
داچې بربېړواېم دا په دې چې مې سر لوړ دى
ټوله روسيه كه ټېرې داوكړې هم وړيا ده

دا سر غوڅېداى شي خو بنده ته ټيټېداى نه شي
دا سر د هغه دى چې په توپو تم كېداى نه شي
زموږ د ګوليو له بلې نه سترګې نه سوځي
زموږ عمرونه لنډ دي يوه ورځ هم اوږدېداى نه شي

راشه چې ليمه مې آخرې ننداري ووينې
سترګې مې يوځلې ستا د وينو دارې ووينې
ستا د غريبۍ، مساپرۍ سلګۍ چې واورمه
www.libtool.com.cn
ستا د نامردۍ، نامرادۍ کوکارې ووينې

دا ښکلی وطن د د ښمنانو هسې پېژني
تورو مې سر پېژني، ګولۍ مې ټټر پېژني
دې ښکلو د روکې مې پردې ته ژوند حرام دی
بوټی مې سپر پېژني او کاڼي سنګر پېژني

نو،

راشه په تلوار چې د خلاصون لارې تړلې دي
دې ترې يې وطن تل د پردو وينې څښلې دي

www.libtool.com.cn

# د هجرت لومړۍ هفته

د تاکال په ارباب روډ کې یوه کمره ده
په کې اوسمه یو زه پنځه بچیان

یو شلېدلی کټکی په کوټه کې پروت دی
زه پرې ناست یمه په لاس کې مې دیوان

په دیوال نړیځ او به کوز رابهیږي
اوري شړکنده دبام په سر باران

www.libtool.com.cn

دښادرلا ندې مې لورغیږ کې ویده ده
چې ساړه شي نښلوي راپورې ځان

خدای خبردی دهغې مرغۍ له حاله
چې صیاد یې درې ورې کړله ځاله

---

زه به هم کله منګولې راپیدا کړم
زه به هم له خونکارانو غچ اخلم

په پردو به هم دناز پالنګ حرام کړم
خیر که اوس په میږیتون باندې څملم

اوس مې وینې چې په خاورو ګنهل کیږم
داسې هم وه چې په سرو به دې تللم

مادمارسره یاري کړه ځکه خوار شوم
که نه خدای په خپله ځاله کې ساتلم

« په بچو مې يو ښامار د هر زور ور دی
هيڅ علاج يې نه راځي صاحب کمـــا له »

---

www.libtool.com.cn

زېړي داړي يې دوزخ ته دروازې دي
له سرو سترګو يې بهيږي لعنتـــونه

له دنيا چاپېره کوارې واړې پروت دی
اچوي په ښنيادم باندې روبـونه

دا ښامار له آمو پورې غـــاړې اوسي
نه پاړو پرې اثر کا ندی نه دمـــونه

په ناولې خوله دغم سندرې وايي
په ښبوزي يې لکه وهي اورونه

په هر ځای کې چې دده څېره ښکاره شي
پرې بهيږي د سرو وينو لوی رودونه

نه دخدای په مخکه څوک ترې بچ کېدای شي
نه مرغه ترې الوتی شي پاس هـــوا له

یه د لویو غرو کور بته کیسه واوره
د بې کوره مسا پرو شنو تو تیانو

د کابل خوږه میوه مې پېژرو نه ده
په ناولونا بللو شوورویانو

د سالنګ سرې او به مې نه لوریږي
د ماسکو په کرغېړنو تپوسانو

د مارغه به په مارغانو جرګه کېږي
زه راغلی یم جرګې ته د مارغانو

تول راځي چې په وروکانو يې ولو(۱)
دا ښامار نه ایساریږي په شوکانو

د بې وزلو تکیو تکیه خدای ته
چې يې جنګ دی له مردارو کجیرانو

یا به داخوني ښامار په کانو پټ کړو یا به ورانه کړو د درستي نړۍ ځاله

۱۹۸۰/۱/۱ پېښور

---

(۱) ترمیهم بحجارة من سجیل - مبارک آیت ته اشاره ده.



www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# د زماني پير

يو وخت د سولې وي      بل وخت د جنګ شي
يو وخت د مستي خندا      بل وخت د ننګ شی

کله د ګلو محشر       سخ د بورا وي
کله د شمعو شغلې       وار د پتنګ شي

www.libtool.com.cn

چې د رنه د رومي اشنا       د شپیلۍ نول وي
چې د تا خواله درځي       د رباب ترنګ شي

چې زړه څوریږي سترګې       شي دانارو دانې
چې زړه نشه وي سترګې       پیالې د بنګ شي

یوې زخمي مرغۍ ته
کله زړه وڅوریږي
کله د مرګ چپاو ته
سخت لکه سنګ شي

۱۹۸۱

پېښور

www.libtool.com.cn

# جنګ او ننګ

هغه باغچه دې تالا والا شي
چې پرې اتڼ د سور بورا نه وي
هغه ژوندون دې د مرګ مېلمه شي
چې واک د بل وي او د تا نه وي

د وطن ښکلو ښکلو زلمیانو
نن مو درشل ته دښمن راغلی
زموږ د خویندو پاکې لمن ته
د شهوت لاس وړي دغه ناول

www.libtool.com.cn

یو پلو سوله ده، غلامي ده
بل پلو جنګ دی، ورسره ننګ دی
پام کړه د سولې چې نوم وانه خلې
په موږ راغلی آیت د جنګ دی

۱۹۸۲
ډنمارک

www.libtool.com.cn

# درقد مه هېروئ!

دا نظم په ۱۹۶۳ع کې لیکل شوی و. هغه وخت کمونیستان
په کابل کې پر مطبوعاتو مسلط وو. کله چې دا نظم په «سهوه»
کې په «ژوندون» کې خپور شو، د سلیمان لایق تبصره دا وه:
«له دغه نظم نه داسې انګېرل کېږي چې ګوندې شوروي اتحاد به
د نورو هېوادو د خاورې لاندې کولو ته اېښې وي.
حال دا چې د امریکا پر خلاف، شوروي اتحاد تر اوسه د چا یوه
لوېشت خاوره هم نه ده اشغال کړې»
درقد د پنځو (آمو) په سیند کې پروت یو ټاپو دی او
دا آزاد شعر هماغلته د سنځلو د ځنګله په مینځ کې لیکل شوی دی.

زما په قبر به لاله زرغون وي
خو زما دا خبره مه هېروئ
چې هلته لرې د سيندونو غېږ کې
يو تور ځنګل دی د اغزنو ونو
www.libtool.com.cn
هغه ځنګل د افغانانو مال دی
چې يې اوبه درنه رالاندې نه کړي

د "پنج" او بوکې لاهو شوی ځنګل
ما يې خونکارې ژامې وليدلې
چې پرانستلي دي درقد له پاره
دا پنځه سرې نبا مار زه پېژنم

لا مار ديګر وي چې په خلکو شپه شي
شپانه په بيره رمې کورته بيايي
هر څوك له کڼو ځنګلو لار چپوي
دا شين ځنګل په ځناورو سپاري

د تورې شپې کېږدی چې وغوړېږي
تورې بلاوې په درقد خورې شي
نهنګان ورو ورو په ساحل ورخېژي
زمرې راوځي د ځنګله له تيارو

د سور لنډيو آوازونه راځي
خوسپي له ويرې خواب نه ورکوي
توره تياره کې د هر بوټي له شا
www.libtool.com.cn
دځناورسترګې رڼې ځليږي

له هرې ونې نه شيبه په شيبه
دکونګ وېرجنه ساندہ غوږ ته راشي
له هری خوانه خونړی سيندونه
لکه بارشوي اوښان وبرېږي

ما هندوکش په سر مزلونه کړي
شپې مې په ښخوکې خوبونه کړي
خو د درقد فضا خه بل شانې ده
زه يې په ځان باندې شګمن غوندې کړم

لکه اشنا چې زه هېر کړی يمه
يوله نظره غورځيدلی تما يو
دحوادثو په منګولو کې ګير
له وطنوالو نه په څنګ پاتې دی

زما په قبر به غاټول شین وي
خو زما دا خبره مه هیر وئ
چې هلته لیرې د سیند ونو غیږ کې
www.libtool.com.cn
یو تور ځنګل دی دا غزنو ونو
هغه ځنګل دافغانانو مال دی
زما د قبر په غاټول موقسم
چې یې او به درنه رالاندې نه کړې

۱۹۶۳
د درقد تاپو - تخار

www.libtool.com.cn

# د پېرۍ چلنج

بیا وشول په مونږ باندې غرونه د پېرۍ
بیا زلمو را واخیستل ټوپک اوګردنۍ

بیا نجونې د لوړو غرونو ښوکې ښارې
بیا کوز را وریږي په ملن ملن بړبولۍ

بیا ښامار راغلی له بدری نه چارچاپېر دی
بیا ورته په غشي ملوک خان راکاږي ژی

بیا دښمن راغلی په دې مسته مسته خاوره
www.libtool.com.cn
بیا په شازلمو شولي حلالې د مور پې

اوري له آسمانه د لعنت د غضب او ر
ځکه راخوټېږي لکه سوزنده تبې

نن به د تش لاسو او د ټانک مقابله وي
ګورو به چې دا خاوره زمونږ ده که پردې

۱۹۸۱
پېښور

www.libtool.com.cn

# د هجرت شپږم کال

سترګو ته د خیال چې د وطن ښکلې څېره راشي
وتر تمه سل ځلې که اوښکې په سترګو راشي

دا ماشوم زړګی که سل د شکو ماڼۍ جوړې کړي
ټولې وړژېږي چې د غم یوه څپه راشـــــي

شپې کاله په خوب کې او په ویښه په وطن کې یم
ورځ بیا ګذران وشي، بېچاره شمه چې شپه راشي

شپه توره بلا ده، شپه خپسه توره دوره ده
www.libtool.com.cn
غم راشي، کړاو راشي، سودا راشي، غوسه راشي

شپه دې بې دردیو، نامرادیو، اسویلو مور ده
کټ راته تنور شي له برستنې سره لمبه راشي

۱۹۸۵
ویرجینیا

www.libtool.com.cn

# ماشومتوب

زه هم یو وختي ماشوم وم　　　ببر سر کنډ لاس غاښونه
سره غومبوري چاودي تلي　　　مات نوکان خیرن لاسونه

په باغو به ګرځېدمه — هره څانګه زما نهال و
چې آلو به سره بخن شول — په هر باغ کې زما مال و

www.libtool.com.cn

ما په تورې تروږمۍ کې — تورا ینخر شو پېژندلی
ما په پټو سترګو ځان خپل — له ویالو شو تېر ولی

یو وړوکی کټ مې ځای و — یوه پینه یې وه د خښتو
لنګه نه، بازو یې کوږ و — نه پرې ځای و د بالښتو

شپې به پرېوتم په ځای کې — ټول وجود اغزو څیرلی
مخ په څانګه شوک شوکاري — سر په تېږه لګېدلی

پرېوتل ویده کېدل وو — نه به ځان نه به جهان و
نه به درد د ستومانۍ و — نه به مځکه نه آسمان و

اوس سپېڅلی مېزته ناست یم — ښه رڼا ښایسته خونه
خوا کې نرم پاک بستر دی — پرې یې د پرو بالښتونه

اوس چې دغه کرښې لیکم — نیمه شپه ده لا تېرېږي
ګاونډي ټول ویده دي — زما سترګې نه پټېږي

ای شلېدلی کټ ګکیه        نور به څه په کې ځايږي
ګاونډي ټوله ویده دي (او زما سترګې نه پټيږي

www.libtool.com.cn

ای شلېدلی کټ ګکیه
ای شلېدلی کټ ګکیه

۱۹۷۰
کابل

www.libtool.com.cn

# شيطان

ثوکۍ يې دغه ثوکۍ يې چې مې هره شپه ثارې
پرېږده نورمې پرېږده ، ماغريب مه ځوروه
سيوری خومې نه يې ، زه په دغه بنه نه يم
مه راپسې ګرځه نوره خپله لسيار کوه

شپه ستړې ستومانه د کټکي د پاسه پرېوځم
خوب مې په شپېو شپېو له ځانه هېروي
سنه چې خوب ویده شم ستا ویرژلې څېره وینم
www.libtool.com.cn
بس دغه لیدن دی په ما شپه سبا کوي

چا ته ویلی نه شم چې یو سیوری راپسې دی
ته مې هم ټوکې هم مې ګناه ته لمسوي
دا ما شوم زړګی مې له ګوګل نه راوباسي
تش جام ورته نیسي او یو زنګ یې کړنګوي

زه هره مسره لکه ابداره توره کاږم
ته پرې د مظلومو سینه ګۍ څیرې کوې
زه ورته ښایسته پښتنې ګنډه په مړۍ ډک کړم
ته یې د لذت له پاره بیرته ورشلوې

شپه چې سبه پخه شي، تاریکي شي، چوپیایي شي
هار د آرزوګانو په قلم باندې پېیم
زړه وایي شپنه هغه غمونه دي اوس نه شته
لیرې چېرته غږ شي چې شپونکیه پام کړه یم

اوس هم کله وایم چې وړوکی وای ژړنکی وای
لاس په ږیره راکاږم اوس وریږن دوم
ځکه شم دېواله ته په هینداره کې ځان ګورم
www.libtool.com.cn
ځان نه وینم تا وینم هینداره ما توم

www.libtool.com.cn

# دوطن له وريځو سره خواله

يه وريځو وريځو دوطن وريځـــو
لږ څه ستنې شئ زه هم درځــېږم
ما ته ځای راکړئ په پسته غـېږ کې
يو سور خاپوړ يم سبا شيه رېــږم

یه وریځو وریځولې په کرار ځئ
زه درته ګورم زړه مې ویلې ږي
کوز هدیره ده زه په کې ناست یم
د سرو بنو وو ساندې غږیږي

www.libtool.com.cn

یه وریځې وریځې دلته دوزخ دی
راکوزه نه شې تا به ایرې کړي
ژوندي وګړي چې سر راجګ کړي
دویم قدم یې په هدیرې کړي

یه وریځې وریځې د وطن وریځې
د تاله مستې بریښنا نه ځار شم
یوه لمبه به راپورې نه کړې؟
چې یا ایره شم یا سور انګار شم

یه وریځې وریځې دا خلک ګوره
دا په نس وږي دا په زړه سوي
دا درټلو دا د ویشتلو
نګیروي خواوري که نور څه نه وي؟

ما در اوچت کړه له دغې ځکې
دلوړو غرونو څوکو د پاسه
زه یو خاټول یم په ملامات شوی
د یو بې باکه مالیار له لاسه

تا ورولې د ژوند اوبه وې
موږه داوښکو سیلاو ترې جوړ کړ
تا زرغونه کړل د ښتې لا ښونه
یو څو خونکارو ارمان پرې موږ کړ

زه به هم کله وزر پیدا کړم
ماتې به زه هم دا هستکړی کړم
بیا به نو تا ته پورته درخېژم
تا به دریاب کړم ځان به بیړۍ کړم

بیا به نو دواړه سره روان یو
د دې نیمګړې دنیا د پاسه
سره به وکړو سره به وایو
چې څه زمونږ کیږي له لاسه

www.libtool.com.cn

موږ به په ګلسو پرخې خوړې کړو
خو په اغزيو به ژوند حرام وي
ګلان به پای اغزي به رېږي
د دوی برچې به د دوی په ځان وي

www.libtool.com.cn

موږ به د دښتي خاتول بيا سوړ کړو
خو په زړګی کې بې تور داغ نه وي
موږ به باغونه بيا زرغونه کړو
خو په باغو کې به تورکاغ نه وي

بيا راکوزېږم د محکې سر ته
داخپل تماتوبی د پېراته ګران دی
څوک چې له محکې نه تېښته وکړي
هغه وګړی د پېر سرګردان دی

محکه د مينې پاکه ترانه ګوده
ژوندون په محکه يولوی نعمت دی
محکه کې ژوند دی ، محکه کې خلک
ژوندون تر هر بل نعمت اوچت دی

انسان شهکار دی خو چې ژوندی وي
په اسمانو کې انسانان نه شته
انسانان خپلو ځمکو کې پایي
www.libtool.com.cn
د وطن خوند ته هیڅ پایان نه شته

۱۹۷۵

کابل

# د روسي عسکرو د تلو ورځ

ای د نړۍ خلکو نن تاریخ بیا لیکل کیږي
دوه سترګې څلور کړئ، دا ورځ بیا نه لیدل کیږي
دې شاهکار ته حیر شئ دا په هر ساعت کې نشته
څو قرنونه تېر شي څو دا نور بیا وچلیږي
نن د آزادۍ مشال یاغي یاغي شغلې کړي
نن په خړ څادري افغان ټول جهان نازیږي
نن میرویس وباسي دلبنن څنې کوکارې

هر زور ته قالب شته هر فرعون ته یو موسی

حق د زور قالب دی د جادو ایمان دوا

خنکه چې لوی درمن ته ورو کې سپرغۍ بس ده

هسې سره بنا مار ته خره کی افغان پیدا

www.libtool.com.cn

مه ستا یه دسترو قدرتونو توره مــاته

نه سوځي د حق سترګې له تالندې بریښنا

حق په د نکو غرونو خپژولي خپلي لارې

ته په موږ نالوستو، شړې پوشو غولېدلی وې

ته زموږ خوارې او ساده کی دېر تېر ایستلی وې

تا زموږ په لاس کې یوم لیده، توره دې نه لیده

سپور وې د غرور په تانګ کې نو له عقله پلی وې

ستا دایما ندارو او خپلواکو سره سر نه و

ته په سوله یېز و مظلوما نو به غښتلی وې

چا نه وې څیرلي ستا ظالم ژامې خونکارې

ویرجینیا

۱۹۸۹ ع

www.libtool.com.cn

# دمجاهد بي وفا يار

ستا د سترګو شو بلې راغلي
د زړه کلي ورانـــــوي
کږې وږې نرۍ مـــلا دې
پښتـــانه روســـانوي

که هرڅو درنه پناه شم
دخپل زړه ستړو اخفا کړم
ستا ظالمې غبرګې چې راشي
سمه غر رونبسانوي

www.libtool.com.cn

یو ورک نومی کلیوال وم
یو تش لاسی مجاهد وم
اوس مې نوم په درست جهان کې
عاشقان ګډ دانوي

زما د زړه په تور بوره
ستا بڼکې کړې ګوزارونه
که همت راته ستمنګر شي
د زړه کار اسانوي

په رګ رګ کې مې کړلي
تا ظالمې پټ ماینونه
ربه داسې سترګې راکړې
چې پټ ماین عیانوي

ستا د حسن باچايي مې
ټول وجود کنډوکپر کړ
زړه مې هسې سلطان غواړي
چې يې بيا ودانوي

www.libtool.com.cn

ويرجينيا
۱۹۸۷

www.libtool.com.cn

# دکوکې د سیند په غاړه

نسیم د سیند په غاړه جوړې کړې نازکې چپې
لکه اشنا چې کله واغوندي نیل رنګه جامې
بیا یې له ملا نه ترلمنې پورې کوټ کوټ کړې
ترزنګانه یې راخوره کړې بیا یې ونغاړې
زه ورته جګ په ګاره ناست یم او موجونه ګورم
او تا ته وایم دا سرې دا میدونو ربه !
زه خبر نه وم چې ما ته دې جنت راکړی

زګونه خوله کې زړه کې شور هره ذره انقلاب
په رنګ رنګې په خوند خوږې په روح زما هینداره
نه په سرپل، نه په پښو بند نه یوه لوېشت نیمګړې
www.libtool.com.cn
زه په دې ځغاسته او ټوپوکې د استانو نه ګورم
او تا ته وایم د اسرو د امیدو نور به
زه خبر نه ومه چې ما ته دې جنت راکړی

یوه آرزو وه چې به تل راسره مله غونډۍ وه
تته، مجهوله، چې احساس به شوه، بیان به نه شوه
اوس چې کوکچه هغه زما د زړه پردې راسپړې
کله ششنیزې کله ټول ځان په سنګړو وهې
زه یې د اوښکو د پردې شا ته اکتو نه ګورم
او تا ته وایم د اسرو د امیدو نور به
زه خبر نه ومه چې ما ته دې جنت راکړی

د ښتو سیل وربانډې ټیټ ټیټ پروازونه کوي
لکه چې ځټ ځان برابر کړي د ناستې له پاره
خوټکنې شي بېرته جګې شي شینکي آسمان ته
داسې شرنګیږي لکه ناوې چې پاولې شرنګوي

| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۲۱- | د ناهید د شهادت په کالیزه | ٦۲ |
| ۲۲- | د احمد شاه بابا په یاد | ٦٤ |
| ۲۳- | د آزادۍ تلوسه | ٦٦ |
| ۲٤- | خپلې ژبې ته | ٦۸ |
| ۲۵- | ویر | ۷۰ |
| ۲٦- | دیېرې د ستنېدو... | ۷۳ |
| ۲۷- | وښیه | ۷۵ |
| ۲۸- | خپلواکي | ۷۷ |
| ۲۹- | زما محبوبا | ۷۹ |
| ۳۰- | د بدخشان مهاجر | ۸۰ |
| ۳۱- | د شپې تنهايي | ۸۲ |
| ۳۲- | د مجروح یاد | ۸٤ |
| ۳۳- | همزولې شاعرې ته | ۸۵ |
| ۳٤- | له قلم سره خواله | ۸۸ |
| ۳۵- | پردیتوب | ۹۱ |
| ۳٦- | عبدالحق همایون مجاهد ته | ۹۳ |
| ۳۷- | جفا | ۹۵ |
| ۳۸- | د مور یاد | ۹۷ |
| ۳۹- | د مهاجر خوب | ۱۰۱ |
| ٤۰- | ترانه | ۱۰٤ |
| ٤۱- | له خپل ځان سره زار او نیاز پای | ۱۰٦ |


www.libtool.com.cn

زه یې د لمر لاندې رنګین رنګین وزرونه ګورم
او تا ته وایم دا سرې د امیدونو ربــــه
زه خبر نه وم چې ما ته دې جنت راکړی

www.libtool.com.cn

چرته د زړه له کوم یو ګوټ نه مې لمسون راځي
چې: هه، شپونکیه! له دې کارې ځان لاهو کړه سیند ته
بیا چې لاهو شې لامبو وهه کرار پر بیو ځه
یوه قطره شه غاړه ورکړه له همزولو سره
زه وایم زړه ته صبر وکړه زه خوبونه ګورم
او تا ته وایم دا سرې د امیدونو ربــه !
زه خبر نه وم چې ما ته دې جنت راکړی

د بدخشان د سرو لعلونو د روګه هر ځای خپره
خو چا قلم قدرې کوکچې باندې ونه چلاوه
د کوکچې یو څاڅکی اوبه به په لالو ورنه کړم
لالو نه کانې دي پراته، کوکچه په مخ بهیږي
زه یې د هر څاڅکي په منځ کې جهانونه ګورم
او تا ته وایم دا سرې د امیدونو ربــه!
زه خبر نه وم چې ما ته دې جنت راکړی

۱۳۵۲ فیض آباد - بدخشان

www.libtool.com.cn

# ګاونډي ته

مه وهه دا خواره ښځه مه وهه

بې له تا نه بله اسره نه لري

تا ته يې له نورو نه پناه دروړه

بې د تا له غيري وايه څه لري

دا له اوښکو ده کې سترګې وچې کړه
بس دی چې پلرو دې ژړه ولې دی
نور نو دا ویرجنه صحنه ونغاړه
www.libtool.com.cn
د هر عمر تاریخ او خدائ وهلي دي

خلک په کړاو کړاو سپوږمۍ ته ځي
ته د کور سپوږمۍ په تندر ونیسې
نور یې لاس ترغاړې مخ په هسکه وړي
ته یې د کوځیو له سرو نیسې

ښځه چې په کور کې ژړنې وینم
دا لویه دنیا را باندې تنګه شي
دا د قضا عصر او دا زور فکر
کاشکې چې په ټولو باندې رنګه شي

چاویل چې حق د زورورو دی
دا به د پښتون له خولې وتلې وي
دوی کې چې کمزوری وي نو ودې مري
چاسره چې زور وي نو ښاغلی وي

دا د ځنګلی بنیادمانـــــو دود
موږ ته پښتنو پوره ساتـــلی دی
دغه به نو نوم د پښتونوالی وی
ځکه مو شهرت هره خوا تللی دی

www.libtool.com.cn

دا شکلی موجود چې تا ته ګوره کوي
دا ستا اندیوال دی، ستا مرئی نه دی
تل یې خوړلی په ژړا وړانه وي
دا موجود خو ستا د لو بوشی نه دی

چې کوډ پوالو نو کې دې بنده کړه
بیا دې سپین کفن ور باندې خپور کړه
ژړانده ژوندی دې هدیرې ته کړه
بیا دې نوم د دې هدیرې ګور کړه

ته که په ایوب باندې میوند ګټې
پام کړه چې ملاله په سنګر کې وي
نور نو ر سنګرونه به لا وګټې
دا د ستوري نقش که دې سپر کې وي

ګذرګاه - کابل ۱۹۶۸

www.libtool.com.cn

# دخوشحال په لار

ورو ښو شروند به په دنیا نه وي مدام
ټول به درومون ګهیځ سبا ماښام

مرګی حق دی رغیدن مو ورنه نه شته
یا په تخت، یا په تخته او یا په بام

یا برېښتن لاندې پراته زنې تړلې
یا شهید په کربلا کې قتلِ عام

www.libtool.com.cn

د چا نوم په خاینانو کې یادېږي
د ملنډو، د بېزاري د دشنام

د چا قبر په رنګینو جنډو جګ وي
په زیارت پسې یې کلي تړي لام

مرګی حق دی، دریغه دا چې هسې مړ وای
چې وطن ټول نازېدای د ده په نام

چې د قام د پاره خپل تن تر غلبېل کړي
د شپانه ورته سر ټیټ په احترام

د سهار نسیمه لوړو غرو ته خېژه
د وطن په ننګیالو مې کړه سلام

وایه ستا سوله مېړاني نه لوګی شم
چې په وینو مو خوندي کړ ننګ د قام

ننګ غیرت نن په افغان باندې تمام دی
ما ته مه ستایه میړانه د ویتنام

www.libtool.com.cn

موږ په روس باندې نن هسې ناتار جوړ کړ
چې ماسکو کې مو په دوی کړ خوب حرام

د سهار نسیمه ښښنده الوزه
ښکلوه د شهیدانو نسکور جام

د غازیانو ببر سرونږیرې ښکل کړه
ورتسلیم کړه دیو خوار شپونکی پیغام

دا چې نن ټوله دنیا په تاسو نازکا
په هر ځای تاسو یادیږئ صبح وشام

د وطن واړه زیږه په تاسو ویاړي
ټول افغان له کنده هاره تر باګرام

ننـزموږ غرونه رغونه شاړې نه دي
د شهید په وینو ټوله دي ګلفام

چا چې مومږ سره دغرې دي وهلي
عاقبت به هم رسوائي هم سرسام

خاوره نه ده دا سره زر دي چې تېرنه وځي
دا وطن دی دخالق د پېرلوی انعام

په دې غرونو چې ورځي لاس په نامه شي
په دې شاړو بې اودسه مه اخلئ ګام

دا پښې بېلې ختما پوش ټول اتلان دي
په شلېدلی خت یې مه غولېږئ پام !

که یې نر دی که یې ښځه بچا هد دی
ټول پاخه دي، دلته هېڅ مه غواړه خام

زوړ خوشحال دي اوس ژمونږ ننداره کا
چې د روس سر به کړو چټ مال یې لیلام

«څو وانخلي له غلیمه انتقام
مرد نه خوب کا، نه خواړه کا ، نه آرام »
۱۹۸۰



www.bibtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# د پنجرې پړانګ

بڼه کې سترګې بڼه کې ليکې په پنجره کې يم راګير
د پنجرې ميلې ولاړې، بڼه کې بڼه کې ګرچاپير

يو ورو کې چاپېريال کې، د پرکار په شان چورلم
ليونې خوبونه وينم، نه يې خيال شته نه تعبير

بېگاه شپه مې ځان په خوب کې په يو لوی ځنګله کې وليد
چې راوېښ شومه پنجره وه، د سيل بينو وبهير

www.libtool.com.cn

هر بازو مې د زور کان دی، هره پله مې انرژي ده
په وره پنجره کې ګير يم، څه خطا کوم مې تقصير

١٩٧٨

کابل ـ څرخي پله زندان

www.libtool.com.cn

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# سریزه

قسمت راته په تهنده بل څه لیکلی وو، که نه ما د لیکوالی په اول سرکې د ځانه سره پخه کړې وه چې په پښتو ادب کې به دیوې داسې پانګې دارو لوتکل کوم چې په هغې کې د ژبې او ژوند ترمینځ اعتدال موجود وي. مانا دا چې هرڅه یوحدولري چې د ریښتونی تجربې سره سمی وخوري.

ما وې د پښتون شاعر تل روانې اوښکی به وچې کړمه او وربه وایمه چې بار دیگر خپل درد په کراره ګاله او د یتیما نو کانې مه کوه چې په ایله شي پرنګ په ژړا وي. ما وې همزولولیکوالو ته به ښوانې کوم چې زیاتی دې د غره د خوکو، د کودر، د ښاپیرۍ وزمه پې مختوب نه ایدي یال نه جوړوي، بلکه مخامخ او بې رنګینو عینکو دې ژوند ته سترګې وغړوي. ماوې... ماوې....

www.libtool.com.cn

# سیند ته

که لاس دروړمه چې څه ناز درکړم
ته مې د لاس له سره بهیږې

که خوله دروړمه چې ځان خړوب کړم
ته مې د شونډو له خوا ښوییږې

www.libtool.com.cn

# دافغانانو غېږ روسانو ته

راشه چې داغرونه دي د هرقدم او ښار دي
تاته د وطن دا سمان ستوري انتظار دي
موږ هم په هسکه غاړه ستا راتګ ته ناست يو
موږ نه پوهېږو چې سرونه دي په کار دي

راشه چې موږ هم همدې شېبې ته ډېر کتلي دي
تا په دې وطن کې ډېرې وينې بهولې دي
دلته به د ټول جهان ميړانه خيل سيال وګوري
دلته موږ هوډ ونه او لوظونه ازمېيلي دي

www.libtool.com.cn

ته د ماشينو نو او پولادو په پښو تلل کوې
ستا ميړانه داده چې د زهرو ورکول کوې
تا سو کې خوداسې کوم باتور هر ګوره نه وينم
(چې)
کاڼي دې په لاس کې وي په ټانک باندې يرغل کوي

ته که زما سر غواړې زما هم پرې رضا ده
دومره به دې پوه کړم چې مې سر کې څه سودا ده
دا چې بربروايم دا په دې چې مې سر لوړ دی
ټوله روسيه که تېرې داوکړې هم وړيا ده

دا سر غوڅېداى شي خو بنده ته ټيټېداى نه شي
دا سر د هغه دى چې په توپو ټم کېداى نه شي
زموږ د ګوليو له بلې نه ستړګې نه سوځي
زموږ عمر ونه لنډ دي يوه ورځ او بنديداى نه شي

www.libtool.com.cn

# د هجرت لومړی هفته

د تاکال په ارباب روډ کې یوه کمره ده
په کې اوسمه یو زه پنځه بچیان

یو شلېدلی کټکی په کوټ کې پروت دی
زه پرې ناست یمه په لاس کې مې دیوان

په دېوال نړېږي او به کوز رابهېږي
اوري شړکنده دبام په سر باران

دښادرلاندې يې لوړغېږکړا وېده
چې ساړه شي نسبلوي راپورې ځان

خدای خبردی دهغې مرغۍ له حاله
چې صياد يې درې ورې کړله ځاله

---

زه به هم کله منګولې راپيدا کړم
زه به هم له خونکارانو غچ اخلم

په پردو به هم دناز پالنګ حرام کړم
خير که اوس په مېږتون باندې ځملم

اوس مې وينې چې په خاورو ګنډل کېږم
داسې هم وه چې په سرو به دې تللم

مادمارسره ياري کړه ځکه خوار شوم
که نه خدای په خپله ځاله کې ساتلم



www.libtool.com.cn

« په بچو مې يو ښامار د پر زور ور دی
هيڅ علاج يې نه راځي صاحب کمـــا له »

---

www.libtool.com.cn

زبرې داړې يې دوزخ ته د روازې دي
له سرو سترګو يې بهيږي لعنتـــونه

له دنيا چاپېره کواړې واړې پروت دی
اچوي په بنيادم باندې روبونه

دا ښامار له آمو پورې غـــاړې اوسي
نه پاړو پرې اثر کا ندی نه دمـــونه

په ناولې خوله د غم سندرې وايي
په بېوزې يې لګي وهي اورونه

په هرځای کې چې دده خبره ښکاره شي
پرې بهيږي د سرو وينو لوی رودونه

نه د خدای په محکمه څوک ترې بچ کېدای شي
نه مرغه ترې الوتی شي پاس هـوا له

یه دلویو غرو کوربته کیسه واوره
د بې کوره مسافرو شنو توتیانو

د کابل خوږه میوه مې پېرزو نه ده
په ناولو نابللو شوریانو

د سالنګ سړې اوبه مې نه لوړېږي
د ماسکو په کرغېړنو تېپوسانو

د مارغه به په مارغانو جرګه کیږي
زه راغلی یم جرګې ته د مارغانو

ټول راځي چې په وروکانو یې ولو (۱)
دا ښامار نه ایساریږي په شوکانو

د بې وزلو توتکیو تکیه خدای ته
چې یې جنګ دی له مردارو کجیرانو

یا به داخوني ښامار په کانو پټ کړو یا به ورانه کړو دردستي نړۍ حاله

۱۹۸۰/۱/۱ پېښور

---

(۱) ترمیهم بحجارة من سجیل ـ مبارک آیت ته اشاره ده.

www.libtool.com.cn

# د زمانې پیر

يو وخت د سولې وي — بل وخت د جنګ شي
يو وخت د مستې خندا — بل وخت د ننګ شي

کله د ګلو محشر — سخ د بورا وي
کله د شمعو شغلې — وار د پتنګ شي

www.libtool.com.cn

چې درنه درومي اشنا — د شپېلۍ نول وي
چې د تا خواله درځي — د رباب ترنګ شي

چې زړه ځوریږي سترګې — شي دانارو داني
چې زړه نشه وي سترګې — پیالې د بنګ شي

یوې زخمي مرغۍ ته
کله زړه وځوریږي
کله د مرګ چپاو ته
سخت لکه سنګ شي

١٩٨١

پېښور

www.libtool.com.cn

# جنګ او ننګ

هغه باغچه دې تالا والا شي
چې پرې اثر د سور بورا نه وي
هغه ژوندون دې د مرګ مېلمه شي
چې واک د بل وي او د تا نه وي

خود سردار داوُد دکودتا او وروسته بیا دکمونستانو له تاراک سره زمونږ او د وطنې مطبوعاتو او ادبياتو رابطه سسته شوه او زمونږ ارمان نیمګړی پاتې شو. یوه لسیزه پس دغه دی خیلی هاغه نیمګړې سندرې ته دوام ورکوم، مګر دغو لسو کالو کښې زمونږ د فرهنګ او کلتور کور وسو خود یو الونه یې پا خه کړل او زما — پیش بینی یې رښتیا کړه. که زمونږ فرهنګیالیو شعرونو ته نېغ کتلی شوای او کلیشه یې نه تری جوړولی هیڅکله به یې د شعر ملـوني د شعار په لوری نه وی خوشی کړې او د کښته طبقې، لوړې طبقې، خوار، بزګر، ارتجاع او انقلاب په اصطلاحاتو به نه بسیا کیدای.

www.libtool.com.cn

د نواب صاحب مېښې به زمونږ دغو پی کودتا نه جوړولی او خـوار کوچ به زمونږ د ادب ځلاند اتل نه وای ګرځېدلی. له بده مرغه د مقاومت د تیرو لسو کالو ادبیاتو ته برخه لاهم په شعار ولاړه ده. فقط د کوتو په شمار کیسې او شعرونه دی چې د افغاني مقاومت رښتونی عکاسي کوي، اوس چې د هر کلي او جبهې د شهیدانو شمیر، دغرونو او ږاګونو لارې کودرې، د مجاهدینو د ږلو خپل مینځی اړیکی، د مهاجرو کمپونه، شمیر او اجتماعي اړانې تو لې په احصایبې، فلمونو او اسنادو کې موجودې دي، بیا هم لیکوال په تصوري او خیالي سمبولونو غږېږي او یو څو محدودې طرحې لري. د دلاورخان دواده دریمه ورځ وه، جنګ ته لاړ، شهید شو او کونډې یې په یاد ژړل. په دري او پښتو دواړو کې هدا کلیشه یې

د وطن ښکلو ښکلو زلمیانو
نن مو درشل ته دښمن راغلی
زموږ دخویندو پاکې لمن ته
دشهوت لاس وړي دغه ناولی

یو پلو سوله ده ، غلامي ده
بل پلو جنګ دی ، ورسره ننګ دی
پام کړه د سولې چې نوم وانه خلې
په موږ راغلی آیت د جنګ دی

١٩٨٢
ډنمارک

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# درقد مه هیروئ!

دا نظم په ۱۹۶۳ع کې لیکل شوی و. هغه وخت کمونیستان
په کابل کې پر مطبوعاتو مسلط وو. کله چې دا نظم په «سهوه»
کې په «ژوندون» کې خپور شو، د سلیمان لایق تبصره دا وه:
" له دغه نظم نه داسې انګېرل کېږي چې ګوندې شوروي اتحاد به
د نورو هیوادو د خاورې لاندې کولو ته اېښې وي.
حال دا چې د امریکا پر خلاف، شوروي اتحاد تر اوسه د چا یوه
لوېشت خاوره هم نه ده اشغال کړې "
درقد د پنج (آمو) په سیند کې پروت یو ټاپو دی او
دا آزاد شعر هاغلته د سنځلو د ځنګله په مینځ کې لیکل شوی دی.

زما په قبر به لاله زرغون، وي
خوزما داخبره مه هېروئ
چې هلته لرې د سپینو ونو غېږ کې
یو تور ځنګل دی داغزنو ونو
هغه ځنګل دافغانانو مال دی
چې یې اوبه د رنه رالاندې نه کړي

www.libtool.com.cn

د ،، پنج،، او بوکې لاهو شوی ځنګل
ما یې خونکارې ژامې ولیدلې
چې پرانستلې دي درقد له پاره
دا پنځه سرې نبامارزه پېژنم

لا مار دیګر وي چې په خلکو شپه شي
شپانه په بیره رمې کور ته بیا یې
هر څوک له کمو ځنګلو لار چپوي
دا شین ځنګل په ځناورو سپارې

د تورې شپې کېږدۍ چې وغوړېږي
تورې بلاوې په درقد خورې شي
نهنګان ورو ورو په ساحل ورخېژي
زمري راوځي د ځنګله له تیارو

د سور لنډيو آوازونه راځي
خوسپي له ويرې ځواب نه ورکوي
توره تياره کې د هربوټي له شا
د ځناورسترګې رڼې ځليږي

له هرې ونې نه شپېبه په شپېبه
د کونګ وېرجنه ساندې غوږ ته راشي
له هرې خوا نه خونړی سيند ونه
لکه بارشوي اوښان وېرېږي

ما هندوکش په سرمزلونه کړي
شپې مې په بشخوکې خوبونه کړيا
خو د درقد فضاخه بل شاني ده
زه يې په ځان باندې شکمن غوندې کړم

لکه اشنا چې زه هېرکړی يمه
يو له نظره غورځيدلی ټاپو
د حوادثو په منګولو کې ګير
له وطنوالونه په څنګ پاتې دی

زما په قبر به غاټول شین وي
خو زما داخبره مه هېروئ
چې هلته لېږې د سیندونو غېږ کې
www.libtool.com.cn
یو تور ځنګل دی داغزنو ونو
هغه ځنګل د افغانانو مال دی
زما د قبر په غاټول مو قسم
چې یې او به درنه رالاندې نه کړې

١٩٦٣
د درقد تاپو - تخار

www.libtool.com.cn

# د پېرې چلنج

بیا وشول په موږ باندې غږونه د پېرۍ
بیا زلمو راواخیستل ټوپک او کړ دنګه

بیا نجونې د لوړو غرونو څوکې څارې
بیا کوزراورېږي په لمن لمن بړبنې

www.libtool.com.cn

# خپلواکي

اسمان په ستورو ښکلی ښکاریږي
شینکی اسمان وي او رانه ستوري
شولې چې توري شي ګلالۍ شي
چې یې ګڼ وربۍ شمال ته ښوري
معشوقه هله د زړه کترې خوري
چې ته شرمیږي، دا درته ګوري

هسې بېدرنګه وبله خوند کا
چې یو وطن وي بل خپلواکي وي

وطن په هرڅه باندې کشمیر دی
خوږمون خلکو ورپسې زړه ځي
بورې شوې میندې، کونډې شوې ښځې
خوځوانان جنګ ته لا په داله ځي
که په پښتو شل وي، ځي په خاپوړو
که لارې نه وي، په غره راغه ځي

هسې بېدر بغه وبله خوند کا
چې یو وطن وي بل خپلواکې وي

هغه واده دې په وير بدل شي
چې په کې غربنده نڅا نه وي
هغه ژوندون دې د مرګ مېلمه شي
چې واک د بل وي او د تا نه وي
هغه باغچه دې تالا تر غلې شي
چې په کې شور زوږ د بورا نه وي

هسې بېدر بغه وبله خوند کا
چې یو وطن وي بل خپلواکي وي

۱۹۸۲

ډنمارک

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# زما محبوبا

نیمه شپه کې راغله بوڼدې سترګې سره لاسونه
غوړې توري څمنې لکه سوی درمندونه

تمیک یې په تیارې کې پړکېده لکه برېښنا
شرنګ یې د پاولو لکه کړچنده تمانکونه

مستې روې سترګې یې د روس په شان خونکارې
وروځې یې چړې وې راکږې په یاغي زړونه

۱۹۸۲

ډنمارك

عنعنه روانه ده ، سړي ته نااميندی ودرېږي چې په لسهاو ناولونه، ډرامې
سفرنامې خارجيانو په همدغو لسو کالو کې د افغانانو د ژوند په باب
ليکلي او له ځينو نه يې فلمونه ډک شوي چې په لکهاو کسان يې لولي
www.libtool.com.cn
او ګوري يې ، مګر حتی يو داسې ناول ، داسې ډرامه ، داسې شعري مجموعه
افغانانو نه دی ليکلی چې لوړه ادبي خلا دې ولري . هماغه سياسي
شعارونه دي ، هماغه خيالي محدودې طرحې دي ، هماغه زوړ مطرب
خانه‌خراب دی چې د ساز په ځای کانګې کوي .

زما د نظمونو مجموعه هم زما د نورو ياد ښتونو سره په کابل
کې باد يووړه ، يوڅه مې چې په ياد وو ، هغه مې دلته راخستي
او پاتې مې څه په پېښور کښې او نور په ډنمارک او امريکې کې وليکل.

زما هر نظم زما په خپلې تجربې بنا دي او حتی "خوب وينم
عالمه" هم زما رښتيانی خوب دی چې اوس يې هم لږ ترلږه په
مياشت کې يو ځل وينم . زما هر نظم په حقيقت کې يو تصوير دی
او دومره زيات احساسات او زما خپلې انګېرنې په کې نغښته . مګر
زما انګېرنې د موضوع په انتخاب کې دي . هره هغه صحنه چې
را ته مهمه ښکاره شوې ، چې يو لوی معنوی ارزښت مې په
کې نغښتی ليدلی ، هماغه مې تصوير کړې ده ، په دې اميد چې
پرېږده چې پخپله د نظم څېره زما نړۍ ليد ، زما غم او ښادی او
زما د نيا ترسيم کړي .

www.libtool.com.cn

# د بدخشان مهاجر

کوکچه بهیږي غاړې ترغـــاړې
دکوچ اوښانو، کږې کږې غا ړې
له ایلبند ونو، کوز راشیوه شـــول
هی کډې لاړې ، هی کډې لاړې

کوچاني وليږل خوزړه يې پرېښود
د زړګي غوټه يې خلاصه نه شوه
ځان ته يې ډېرې تسلې ورکړې
خو يې يوه خوا ترلاسه نه شوه

دا د سکروټو دلې اوروونه
د چټو پېغلو سپين مړوندونه
په ښو ځوانانو دې خداى پيرزو کړي
مونږ خو يې ورک کړو له وطنونه

۱۹۷۹
کابل

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# د شپې تنهایي

بچیان ویده ښه دی          برقونه مړه ښه دي
له خپل زړګی سره مې          د زړه خواله ښه دي

د ژوند يادونه دی — چې په ټوپو راځي
ورځ لا يو څه سوړکي وي — غم مې په شپو راځي

www.libtool.com.cn

د تورو زلفو داستان — رانه د تور ښامار شي
د خيالي سترګو بيان — رانه د سره انګار شي

قلم ياغي شي رانه
زما خبر نه ليکي
هر څو پرې بيړه کوم
خودی يې ژر نه ليکي

١٩٨٨ ع
ويرجينيا

www.libtool.com.cn

# د مجروح یاد

اوښکې د ښیښو څوکو ته راغلې لږ بانه غواړي
رژنده ګلاب ته وږمه هم د سیلۍ خور شي
ما په ماشومتوب کې هم له شګو سره لوبې کړې
نن کورونه جوړ کړي خو سبا ته بیا نسکور شي

ویرجینیا ۱۹۸۸

www.libtool.com.cn

# همزولي شاعر ته

ته د دنیا د کاروانونو جـــرس　　د تمدن د قافلې زنځـــیر
ستا له تېزبینو سترګو ځان ساتي　　د هندوکش د آسمانونو کجـیر
ستا د وزر لاندې خوندي د بشر　　لکه تکیه وي مریدان چې په پیر
هـوته شـاعري قـلم سم چلوه

چې يې دچا دلاس رانجه خوړلي — دهغه غبن دتاله ستوني راځي

چې په کړاو په يې کسې کې ومري — داستا قلم يې ځنازې پسې ځي

چې يې برچه په سينه ننوځي — ستا له قلمه ورته آخ وځي

www.libtool.com.cn

هو ته شاعريې قلم سم چلوه

ته سيلاب يې نوته ويالې جوړوې — ته غور ځنګ يې نوته سامان ورکوې

يوه دنيا درته ذره ښکاري — په يوې اوښکې پسې ځان ورکوې

چې يې اظهار له چا نه نه وي پوره — هغه احساس ته ته بيان ورکوې

هو ته شاعريې قلم سم چلوه

ستا له قلم نه دنياکې جوړه — چا ته نسامار چا ته دلاس امسا

چا ته دیوه چا ته په زړه کې چاره — چا ته خوږه کيسه دتللي اشنا

دچا دزړه دتنهاکو دارو — په چا دوزخ نه راوليدلي بلا

هو ته شاعريې قلم سم چلوه

په توره شپه کې دسبا زيرې — شوګيره خلک يې له تا غواړي

ټول له دنيا چې ورته سور اور شي — دزماني يتيم په تا ژاړي

چې ځناور به نړيوال وراشي — اې قلم واله اول تا داړي

هو ته شاعريې قلم سم چلوه

د ژوند د ذوق پاکه هینداره ته یې
ته چې خندا کوې دنیا خاندي

ته نو چې خاندې ریښتیني خاندې
که نه تاریخ به بیا په تا خاندي

د تا د هرې اوښکه کې په اشر
بوټي ګلونه به سبا خاندي

www.libtool.com.cn

هو ته شاعر یې قلم سم چلوه

د ننګي مانې چې تا خوشحال نه کړې
په رڅولو یې قلم چلوه

چې لا تر اوسه ایسار شوې نه وې
نه په مستې وریاندې دم چلوه

چې بشري لوې په مخکه وهي
هسې بامونو باندې بم چلوه

۱۹۵۸
خان آباد

www.libtool.com.cn

# له قلم سره خواله

له قلم سره مې بیا کوږې خوږې شوې
په ګونګې خوله مې بیا جوړې ترانې شوې

په مړ ژواندي تن کې بیا ساه راغړېږي
بیا را یادې لس کلنې خاطرې شوې

بیا مې خلاصه کړله ژوند ته نوې لاره
بیا مې ځانګو د ارمان کې پاڼې شنې شوې

www.libtool.com.cn

وچو مړاندو د زړګي کې وینه راغله
دا زړې وچې ویالې وروورو ولمدې شوې

عقل ویلې چې قصه دې لاړه راغله
د ماجرې چې چېرته بنې شوې هلته شپې شوې

سره هاتي چې په شنه بڼ یوځل پښې ایښې
د هغه ګلبڼ ریښې ترمې تسمې شوې

عقل داویلې خوږه په بله سرو
د دې دووترمینځ مې خوږیې حوصلې شوې

عقل پښې ایستې خوږه لکه دغو
زړه مستي کړه چې په عقل زلزلې شوې

که دروېش هاتي هرلورې ته یرغل وړ
سمه غو که د کرو مناري شوې

امید دی چې زلمي شاعران هم هـمدا عنعنه وروزي او همدا
سبک په پښتو ادب کې رواج شي .

www.libtool.com.cn

**سعدالدین شپون**

۱۹۹۰ - اپریل

پېښور

خو چې ګوري خړه کې افغان لاشته دی
د زړګي وينې ی سرې نه شوې لا سرې شوې

www.libtool.com.cn

که وطن مو شولو ړنګ له بوره وراړو
په غليم مو هم د زړه سخې پسخې شوې

که يونيم مليون زموږ نه په کې لاړل
د دښمن په خوله کې هم خاورې ايرې شوې

چې په شوبلو په تمانکونو سپاره راغلل
په سته يې اوس رواني قافلې شوې

ستړګې سرې، مرکونډه ماتې، جنګ بايللی
نوم برباد، هدف تباه، خاورې په خولې شوې

واشنګټن
۱۹۸۹ ع

www.libtool.com.cn

# پردیتوب

اشنا د ځنګو غرونو کچیر غواړي
زما وزر په دنګو ماڼو سوزي
زه هسې مکروریان کې ورته میشت یم
په دي انګړ کي بل مرغه الوزي

نه دا د کودرغاړې ته روانه
نه زه هسکه شمله بوری په غاړه
نه زه لکه باسنه شنا مې خېږي
www.libtool.com.cn
نه دا جګه الوزي لکه خاره
موږ دواړه په دې ستېج کې نا بلد یو
موږ هیڅ یو پخپل نقش نه پوهېږو
لیکوال راته پردی درام لیکلی
او موږ لکه کالبوت لروبرکېږو
موږ دواړه پخپل نقش نه پوهېږو
د دوو کسو اتڼ دی په میره کې
د مړو هډوکي یو په بل لګېږي
برووې راته خاندي هدیره کې

۱۹۷۶
کابل

www.libtool.com.cn

# عبدالحق "همایون" مجاهد ته

سره ده ولې دې پرېښوه چې وطن درباندې باغي کړ
جار دې تر بېرې بزيرې سل ځله شپونکی شي

ناوې د وطن دې په تا فخر کړي لالیه
مورې بوره مه کړې څوک چې تا غوندې زمرې شي

تو له جبارخېل دي او س پګړۍ جګې شملې وړې
دوی کې همایون چې لکه ستوری ځلېدی شي

www.libtool.com.cn

نن په توره بوږ په روسانو کړې مور بوره
بله ورځ پغمان کې د پرچم میلمه مرګی شي

تول وجود پرهار دی په کولیو لګېدلی
یو ځای یې روغ نه دي چې داشنګه په لار تلی شي؟

خومره چې د توپو او بمونو محشر جوړ وي
هومره همایون ورته بېباکه توریالی شي

مه مرې مجاهده د دې جګو غرو کور بته
ستا له سر و منګولو د ښمن کله خلاصیدی شي

ستا په برکت خلقي پرچم یو له بل وژني
روس ستا له هیبته سر و هې روغ لیونی شي

توره او مېړانه او ښکلا په تا ده ختمه
دا زما قلم دې هم د تا د مخ لوګی شي

پېښور ۱۹۸۱

www.libtool.com.cn

# جفا

پرېږده چې راوړېږي دا جګ غر
دا د ګنهګارو کلي لاندې کړي
دا د ځان وژونکو او دغلو ډله
سل خرواره کاڼي چې ورباندې کړي

ده ورته ویل چې ګناه مه کوئ
دوی په بې دردۍ له کلي وشاړه
چا یې د پګړۍ زنډۍ په غاړه کړه
چا سپي ورشکارل چې ټول یې وداړه

وینې یې په شکلي مخ ورماتې وې
کلي نه روان وشاته یې نه کتل
ده ویل چې دا به پښتانه نه وي
ها چې پښتانه وو څوک یې نه رټل

پوندې یې سپینګیرو ورخیرلې وې
دی په ده پرامید دلته راغلی و
لاره کې یې لوږې تېرې کړې وې
دی یو لوی پښتون او ښاغلی و

١٩٧٥
کابل

www.libtool.com.cn

دمور د مړينې د خبر په اورېدو:

www.libtool.com.cn

# دمور یاد

دګلو به محشر وخوکه وربځې لړ سخي وای
که ستا د ټیکري پیڅکه وای زما به هم مستي وای
د تا د لاس سا به وای چې بې تبي مې خوړلای
د تا د مینې اور وای مورې زه ورکې ستي وای
ماښام مې دکټوې نه د شودو سوکې څښتلای
سهار مې د مېټې په ترشکن کوچ سبناري وای
دردو نه کړاوو نه مې ګرې ورځې کالای
خوشیه ستا په زنګون مې سر کېښوی دلاسایي وای

نه پوهه نه قلم وای ، نه مکتب نه لیک اولوست وای
تالاس په سر راښکلی، ماخپل زړه درته سکښتلای
سره دژمي شپه وای ،د نغري خوالن ته ناست وای
په ورو ورو په مزودې افسانې راته کولای
په ونو په اغزو مې مخ او پښې زخمي زخمي وای
د تا په جادوګرو کوټو تولی رغېدلای
د ديوان وای، ښاپیرۍ وای ، او ملوک وای او بدرۍ وای
د تا د ښکلي غږ نه د اسرارو زوږ راتللای

یه مورې زړې مورې ! ماخو ونه لیدی مورې
ته لاړې درنه پاتې شو ښکس ستا نازولی
یه مورې د نیا اوروه زه او ته پرې خبر نه وو
اوس ګوره خم هسکیږلی، کړېدلی او ترټلی

یه مورې په زړه پورې ، یه درنې لېښتنې مورې!
د تا د ځنازې کټ نوروپورو هدیرې ته
خبرشوم چې بوتو موکو ډل کړه درپسې ورپې
اوتا پناه وروړې وه د بل کلي د پېرې ته
خبرشوم چې زما فوټو دې هرچا ته ښودله
زوی ګې مې راروان دی خلکه دې بلې پیرې ته



www.libtool.com.cn

دکلي خلکو ويلې چې بوډۍ لېونۍ شوې
ړنګه نه نورتم وايم، سپين سبا توري تياري ته

www.libtool.com.cn

چې سا دې ورکوله زما نوم دې يادولو
تاوې چې آخري ديدن دزوى شو را نه پاتې
ادې خو مجبوري وه، بې دردي وه بېواکي وه
دې سره ښامار په ډېروکړې ښا يسته ميني ميراتې
زه لازم چې دسره ښامار علاج چېرته پيدا کړم
زه لازم چې په ټوله دنيا وکړم ننواتې
دنيا ته ګرېوان وشلوم، بېلکې ورته ښکاره کړم
دا دارې د ښامار دې نه شکرې نه نباتې
که زه يې درنه کوټ کړم او زما سره يو نه شوې
قسم په ذوالجلال دى که به يو شى ورنه پاتې
په خلکه سره ښامارته خره کې افغان پيدا دى
تاريخ کې دې راغلي چې به روس خوري دلته ماتې

ادې! يو نيم مليون مې په وطن کې شهيدان دي
په هر کاله کې وير دى او په هر کلي کې ساندې
مليون شپږ شلي نه دي چې په کوټو دې شمېرلي
يو نيم مليون لس لکه دي پنځه لکه پرې باندې

www.libtool.com.cn

# لوبه

ټوکه یې ونه ګڼې د ژوند او مرګي لوبه ده
بله لاره نه لرو یا مرګ دی یا مو سوبه ده

یا به شین خالو د سره ښامار له داړو بېچ کړمه
یا مې په سرو وینو دا نړۍ ټوله خړوبه ده

ویرجینیا ۱۹۸۵

WRITERS UNION OF FREE AFGHANISTAN
WUFA
1985

www.libtool.com.cn

# پرخه په ترخه

د شعر مجموعه

سعدالدین شپون

١٣٦٩

www.libtool.com.cn

# پرخه په ترخه

«د شعر مجموعه»

سعدالدّین شپون

۱۳۶۹

د وفامشر:

پروفیسر عبدالرسول امین

www.libtool.com.cn

دکتاب نوم : پرخه په ترخه

شاعر : سعدالدین شپون

خپرونکی: د آزاد افغانستان دلیکوالو ټولنه (وفا)

دچاپ کال: ۱۳۶۹ ش (عقرب) ۱۹۹۰ع (نوامبر)

دچاپ ځای:

خطاط : نورالدین هنریار

تیراژ : زر ټوکه

ګڼه : ۵۲

# اهداء

www.libtool.com.cn

ډاکتر محب الله نکته ته چې مړینې

یې زه او "خالص" نیمه خوا کړو.

www.libtool.com.cn

# فهرست


| شماره | عنوان | مخ |
| --- | --- | --- |
| ١ - | سریزه | ٥ |
| ٢ - | لوبه | ٩ |
| ٣ - | زه د شپې له تاریکۍ سره... | ١٠ |
| ٤ - | د افغانانو غبرګ روسانو ته | ١٣ |
| ٥ - | د هجرت لومړۍ هفته | ١٦ |
| ٦ - | د زماني پېر | ٢٠ |
| ٧ - | جنګ او ننګ | ٢٢ |
| ٨ - | د رقدمه هیروئ | ٢٤ |
| ٩ - | د پیرۍ چیلنج | ٢٨ |
| ١٠ - | د هجرت شپږم کال | ٣٠ |
| ١١ - | ماشومتوب | ٣٢ |
| ١٢ - | شیطان | ٣٥ |
| ١٣ - | د وطن له وریځو سره خواله | ٣٨ |
| ١٤ - | د روسي عسکرو د تلو ورځ | ٤٣ |
| ١٥ - | د مجاهد بې وفا یار | ٤٥ |
| ١٦ - | د کوکچې د سیند پر غاړه | ٤٨ |
| ١٧ - | ګاونډي ته | ٥١ |
| ١٨ - | د خوشحال په لاره | ٥٤ |
| ١٩ - | د پنجرې پرانګ | ٥٨ |
| ٢٠ - | سیند ته | ٦٠ |